ژباړه او هڅه: رحمت آريا ۲۰۰۹/۱۲/۲۳م

# د هېڅچا د واکمنۍ ګډۍ پر مستند فلم لنډه کتنه

نهمه برخه

## تـــَچــَر

ناصرپور پيرار: کله چې له آپادانا دباندې راوځو او مخ په سويل خوځېږو نو د تخت جمشيد يوې بلې ډېرې نوميالۍ ودانۍ ته رسيږو چې تچر يې بولي. ويل کيږي چې دا د داريوش ځانګړې ماڼۍ وه. هېڅ داسې پياوړی دليل او زباد په لاس کې نه شته چې دغه ماڼۍ دې د داريوش ځانګړې ماڼۍ وي. په دغې ماڼۍ په مرکزي صالون کې ۱۸ تاخچې دي چې د اتلس واړو تاخچو پر سر يې په فارسي داريوشي يا داريوشي ميخي ژبې ليکل شوي چې دا زما د خونې تاخچې دي. پام مو دی.



ډېره ناشوني ښکاري چې يو سترواک ، يو سرلښکر او د پاچايانو د لړۍ د يوه مشر له خولې دې دغسې يوه بې مانا خبره هغه هم يوځل نه بلکه څو څو ځله يعنې ۱۸ ځله وتلې وي ، نه يوازې له خولې يې وتلې وي بلکه امر وکړي چې هغه د ديوال پرمخې و کيندې او ودې ليکې چې دا تاخچې زمادي اوګنې تأريخ ته دې په راتونکې کې دا و پوهوي چې دغو تاخچو يو وخت خپل ښتن درلود. زما په اند دا هسې منځتشې درغلۍ دې ؛ ځکه په تخت جمشيد کې د داريوش هېڅ ډول نخښې او آثار نه شته ، هر چيرې خشا يارشاه دی او هر چيرې يې ويلي چې دی پاچا دی ، دغه خبرې يوازې د يوې تشې د ډکولو لپاره په لوی لاس ويل شوي دي. البته ددغې خبرې سموالی يا نه سموالی زموږ پرڅيړنې چې پر يوې ودانۍ يې کو هېڅ ډول اغيزه نه شيندي ، او نه هم د هخامنشيانو پر تأريخ کومه اغيزه کوي خو په زړه پورې دا ده چې دغه معماري په خپله د هخامنشيانو له تأريخ سره په عجيب او نه بيليدونکې ډول يو ځای شوې او دواړه د يو بل د ځواک او پياوړتيا ددليل په توګه انګيرل شوي دي له دې امله کله چې موږ د تخت جمشيد په اړه خبرې کوو موږ اړ يو چې ددغو سترواکانو د لړۍ په اړوند دغه تأريخي لغازې ورته ووايو. ځکه هغوی دې داسې ونه انګيري چې دا يوه عادي خبره ده ؛ هغوی جام هم موږ ته راپيژني او وايي چې د خشايارشاه وو خو دغه جام ډير نوی دی او هيڅ شک نه شته چې لاس نه دی ور رسيدلی او په هېڅ ډول يوه لرغوني اثر ته ورته والی نه لري ، په دومره اوږده وخت کې يو جام روغ رمټ نه شي پاتې کيدلی ، دوی ځکه دا دليل راوړي چې ګڼې خشايارشاه د جام په يوې ګوښه کې په داريوشي ميخي ژبې ليکلي چې دا جام زما دی.



دلته خبرې چورلټ د ماشومانو په ژبه ويل کيږي ، دا غير تأريخي خبرې دي ، په نړۍ کې به هېڅ داسې واکمن او پاچا ونه موندل شي چې د خپل وياړ او پرتم نخښه يې يو جام بللی وي ، موږ دا وايو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چې په دغو خبرو کې يو ډول ناراستي شوې، پام مو دی. که وروسته مو وخت وموند و به وايو چې ولې دوی دغسې جملې ورته جوړې کړې او ويې نه شوای کولای ورته داسې جملې را پيدا کړي چې د ډير ډاډ وړ وي يا لږ شک پکې وشي ؛ اوس موږ غواړو هماغسې چې د تخت جمشيد د ودانيو په نورو برخو کې مو ورباندې خبرې وکړې د همدغې ودانۍ په اړه چې دداريوش مانۍ بلل شوې او تچر يې بولې خبرې وکړو. په ټوليز ډول دغه ودانۍ دومره ډيره ځمکه نه لري او نه شي کيدای چې د يوه حکومت د واکمن يا د يوه پاچا د مانۍ په توګه دې وپيژندل شي. ځکه ددغې مانۍ د ننوتنګ دروازه دومره کوشنۍ ده چې يو متر او شل سانتي ده. دغه يو متر او شل سانتي دروازه چې د ټولو تګ راتګ ورباندې کيږي او د نن ورځې د آپارتمانونو دروازې ته ورته ده نه شي کيدای د يوه واکمن د مانۍ دروازه وي. هرګوره ، ان که موږ دغه ګوټ د پاچا لپاره د استراحت او دمې نيولو لپاره يو ځانګړ شوی ګوټ هم وبولو بيا هم دغه ځای د اړينو خدماتو لپاره ځای نه لري د بيلګې په توګه د لاسونو د پريوللو لپاره ځای ، يا د اوبو د ساده جريان لپاره ځای ، له همدې امله ټولو لرغون پيژندونکو دا منلې چې دلته د اوبو ساده جريان نشته. ښه که دا ومنو چې وروسته به معمارانو په پام کې درلودل چې ددغه استراحت ځای لپاره به اړين ځايونه جوړ کړي هغه به جلا خبره وي ؛ موږ د شته پاتې شونو پربنسټ خبرې کوو او نه پوهيږو چې معمارانو غوښتل څومره نور بدلونونه به دلته راولي ، اوس دومره ويلای شو چې دغه ځای د يوه استراحت ځای يا استوګنځای په توګه نه شو منلای. که دا منو چې معمارانو غوښتل دلته نور شيان جوړ کړي نو لنډ په لنډه بايد ومنو چې دغه ودانۍ يو نيمګړې او نابشپړه ودانۍ ده.

موزيک



۱ويانډ

د تخت جمشيد د نورو مانيو په منځ کې بايد د تچر مانۍ د خپل جوړښت د پړاونو له اړه تر ټولو لومړۍ جوړه شوې مانۍ ومنو. ځکه دلته د نورو مانيو په پرتله کار پرمختګ کړی دی ، په دې مانۍ کې ځراغځايونه په بشپړ ډول ځای پرځای شوي ، دروازې ايښودل شوی خو کار په همدغه پړاو کې په ټپه دريدلی دی.

موزيک

په حقيقت کې ددغې مانۍ د جوړيدا کار د پايه- ستنو او ستنو ايښودلو پړاو ته وو رسيدلی.



موزيک

د مانۍ د غولي پرمخ د پايه – ستنو د ايښودلو ځايونه له ورايه ښکاري

موزيک

د ځراغځايونو او دروازو د جوړولو ځرنګوالی هم کټ مټ د صد ستون د مانۍ په څير يوازې د ډېو په ژيو کې د کرښو د کيندنې په شان دي. خو هېڅکله د دوازو او ځراغځايونو ترمنځ د ډبرين ديوال تختې نه دي ايښودل شوی. په دغه خبره هغه مهال پوهيږو چې په ځراغځايونو کې د حجارانو د قلمونو له څوکو پاتې شويو نخښو ته ځير شو.



ددغې مانۍ د سويلي ديوال پرمخ نخښو ته په کتنې پوهيږو چې دلته کار نه دی بشپړ شوی.

موزيک

ددغه سرتيري د حجارۍ کار چې انځور يې بايد دديوال په اوږدو کې کيندل شوی وای نيمګړی پريښودل شوی دی.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

موزیک



ناصرپور پیرار: په دغي ماڼۍ کي ترټولو په زړه پوري شی دا دی چي د هغي په لویدیځه څنډه کي یا د پوړیو په شمال – لویدیځي څنډې کي د ننوتـنـګ یوه دروازه ده چي له لویدیځ لوري ددغي ماڼۍ پر مخ پرانیستل کیږي. د ننوتـلو ددغي دروازې او د پوړیو ترځنګ یوه ډبرلیکه ده چي پر خپل مخ یوازې میخي داریوشي لیکنه لري او په هغي کي دریم اردشیر مدعی شوی چي د ننوتلو دروازه او پوړۍ هغه جوړې کړې دي.



په زړه پوري دا ده چي که موږ دغه ودانۍ د داریو وګنو نو د داریوش او دریم اردشیر ترمنځ مهالیز واټن نیږدي یو سلو پینځوس کاله شاید هم تر هغه ډیر وي. په دغو یو سلو پینځوس کالو کي څنګه د دریم اردشیر په خیر یو واکمن له خپله ځانه یو اثرپریږدي او هغه هم یوازې دغه پوړۍ دي؟ آیا دغه پوړۍ دومره مهمي وې چي هغه دې ورته یوه ډبر لیکه ولیکي او ووایی چي دغه پوړۍ ما جوړې کړې دي؟ دا کټ مټ هغو یادښت لیکونو ته ورته دي چي داریوش د تاخچو په اړه ویلي ول او دعوی یې کړې دا تاخچې زما دي!!! هیڅ یوه خبري طبیعي نه ښکاري او په زړه پوري داده چي د تچر په ماڼۍ کي د پوړیو پرغاړه ددغي په میخي داریوشي لیکل شوې ډبرلیکي ترڅنګ یعني د ۲۵ مترو په لیرې والی د پوړیو په بل پوري غاړې د تچر په سویلي برخه کي په همدغي ژبې درې نوري ډبر لیکي دي ؛ هغوی د هماغي ډبري لیکي درې نوري لیکل شوې په هماغه پیام ټک وهلي دي چي هره ډبرلیکه له یو بل څخه لږ واټن لري. په دې مانا چي موږ څلور ډبرلیکي په یوه متن لرو او هغه هم په دې ژبې چي دغه پوړۍ ما جوړې کړې دي؟ په هغه ځای کي خو اصلاً پوړۍ نشته او له پوړیو څخه په لیرې واټن کي ټک وهل شوې دي ، چي موږ پوه شو دغه لیکنه په دغو پوړیو پوري اړه لري.

موزیک



وډې را توليٍ شوې دي له خپل ګاونډي ډیوال سره هیڅ شریک ټکی نه لري او څرګنده نه ده چي ولي.

موزیک

په حقیقت کي دغه دیوال هېڅکله یو نښتی دیوال نه وو او په لږ څیر کولای شو پوه شو چي دغه دیوال له اره له ګاونډي دیوال سره تړاو نه لري. د بیا رغاونو په لړ کي هڅه شوې ده چي دغه ځای ته د یوه انګړ بڼه ورکړي.

۱ویاند

د تچر له ماڼۍ څخه په تیریدا موږ یوه تش ډاګ ته رسیږو چي نن یې د تچر انګړ بولي.

موزیک

ددې دیوال پر سر راټولي شوې ډبري چي نوې اوګډې



موزیک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



د دیواله په بدنه کې د حجاری نیمګړتیاوې هم لیدلای شو

موزیک

په دې کې د پام وړ ټکی ددغې ټولګې پوړی دي. ستاسو په اند ددغو پوړیو بل سر چیرې ځي؟

موزیک



پاتې دې نه وي چې په پخوانیو اخیستل شویو انځورونو [ عکسونو] کې دغه پوړی په بله بڼه دي.
موزیک

دغه بدلونونه په وروستیو بیا رغاونو کې په لوی لاس رامنځته شوي دي چې د تخت جمشید انګړونو ته داسې یوه بڼه ور په برخه کړي چې سیلانی د هغه د کار په نیمګړتیا پوه نه شي. د تچر د انګړ د ورستنی څنډې پر دیواله د ډبرو له ملنډو ډک سرپر سر اېښودل په خپل ځان کې یوه موخه هم لري ترڅو سیلاني د هغه شا ونه ویني. په دې اړوند به نورو خبروته غوږ شو.



ناصرپور پیرار : په تخت جمشید کې یو بل شی چې کولای شي په داریوش پوري یې وتړي د تچر په سویلي څنډه کې یوه لویه او لوړه منځتشي ستنه ده.

په دغې منځتشي لوړې ستنې کې هم داریوش دعوی کړې چې خپل ځانګړې شوې مانی ، تچر ده په خپله جوړه کړې ده [چې ښایي دوی ورته جوړې وي] خو هلته یو ځل بیا خشایارشاه را پیداکیږي او وایي چې هغه هم ددغې مانی په جوړولو کې برخه درلودله ؛ تر ټولو مهمه خبره له سیمې څخه زموږ پخواني اخیستل شوي انځورونه دي او د هغې ستنې پر ځای چې نن ورباندئ ډبرلیکه ځړول شوی یوه نړیدلي ستنه لیدل کیږي .



په انځور کې تاسو له ورایه وینئ چې له همدغې ستنې څخه یوازې یو نیم متر یې پاتې ده او پاتې او نوره له منځته تللې ده ، خو د اوسنی ستنې چاودې او نښلول شوې برخې تاسو ته وایي پر هغې نوې ترابنل شوی ستنې اېښودل شوې او تاسو د همدغو نښلول شویو برخو په څنډو کې د داریوش ډبرلیکه ګورئ.

دا نو له درغلی ډکې ملنډی دي چې دوی یې پر خلکو وهي ، موږ غواړو دغو ښاغلیو ته ووایو چې آیا تاسو کله پر ولس د ملنډو وهلو ګومان کړی دی چې یوه نوې ترابنل شوې ډبره دې له پخواني پاتې نړیدې برخې سره ونښلول شي او ووایاست چې دا هماغه زړه ستنه ده او ډبرلیکه هم ورباندئ ورزیاته کړئ؟ او د داریوش له خولې ولیکئ چې په فلاني ځای کې مې دغه کار کړی دی. ټوله خبره همداسې ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ







ویاند ۱

دلته دا ټکی د ډيرې پاملرنې وړ دی کله چې د یوه هیواد پاچا دیوې تأریخ ودانی پرمخ خپل یو یاددښت باسي نو نور کسان ددغه هیواد پرتأریخ کوم ناورين نه دی چې راوړي يي.





موزيک

نوربیا

یـــادونـــه:

د فلم د ليدلو لپاره د تحليل د خانګي کښې خواته د تلويزيون های افغاني تر کړکۍ لاندې د آ ګ او تی وی د مستندوفلمونو په برخه کې و ګورئ!



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

**یادونه**: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ